# دډاکتر نجیب الله دشهادت دنولسم تلین په مناسبت

اسدالله پیام



## ډاکترنجیب الله دچادی اوهغه ته ریښتونی درناوی  په څه کښي نغښتي دی؟

زموږ دلرغونی او معاصرتاټوبي دولتي او ملی واکمنان او مشران که دخپل ولس اوپرګنوله مینځه راوتلی اویادتاریخ په یوه ځپرکي کښي یی واکمنی تپل شویده،دهمدې خاورې او همدې ولس دلرغونی او معاصر تاریخ انځورګران دی چه ښیګڼې اوبدګڼې یی هم ټول ولس ته په میراث پرې ایښي دی.دواکمنانو او مشرانو پر کړو وړو قضاوت،هغه مهال دکورنۍ،توکم،ټبر، قوم،ډلې او ګوند له واک او صلاحیت څخه راوځي په کومه ګړۍ چه یا په دیموکراتیک اویاهم دودیزه توګه دټول هیوادد برخلیک دټاکلوبهیر یا ورسپارل شوی اویاهم پرې واکمن شوی وي. دبیلګې په توګه دمعاصر تاریخ واکمنان رااخلو چه داحمدشاه باباډټولواکمني ددوران ښېګڼې اونیمګړتیاوی نه دزمان خان له کورنۍ، نه د سدوزیو له توکم،نه ددرانیانوله ټبراونه هم

دپښتنو له قوم سره تړاو لري بلکه دافغان ولس دویاړلی تاریخ ګډ میراث دی.دامیردوست محمد،امیر محمد یعقوب او امیرعبدالرحمن دسلطنت اوامارت ددوران دوطنپلورنې ننګینې بېلګې نه دمحمدزاییانو،نه ددرانیانواو نه هم دپښتنولپاره بلکه دټولو افغانانودګډ تاریخ یو تورداغ بلل کیږي.دغازی امان الله خان دخپلواکي غوښتني او دملت – دولت جوړوني دناتمامه څېرکي ټولي ویاړني دده دکورنۍ،ټبراو قوم ملکیت او میراث نه بلکه ټول هیواد اوولس ته ور پاتي شوی ویاړجن میراث دی.یا هم دحبیب الله سقاو دنه میاشتنۍ تېل شوي ننګیني واکمنی مسولیت نه دهغه کورنۍ،نه دکلکان کلي،نه دپروان ولایت او نه هم دتاجکو قوم ته متوجه دی بلکه له بده مرغه زموږ ټولو افغانانو دګډ وطن دتاریخ یوه توره لکه او دننګ ګډ پېټی دی چه ترې تیښتیدلای نه شو

دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند اووطن ګوند مشران هم کله چه ددولتی واکمنی مشرتوب تر لاسه کړله دې عام حکم څخه مستثنی کیدلای نه شي.دوی که د«خلقیانو»یا«پرچمیانو» او یا هم ددې دواړوډلو ګوندی لاربښونه کوله تر هغه دمه دخپل ګوند جوړښتونو ،مرام اواصولو ته ژمن اودهغوی یوه برخه بلل کیده چه یواځې او یواځې دهمدې ګوند له داخلي ژوند او هډانې سره یې تړاو درلود.خوهمدغه مشران اوحتی دهمدې ګوند عادی غړی کله چه دولتی هډاني ته یا دمشر اویا هم کارمند په توګه ور ننوتل نور نو دنافذو قوانینو په محدوده کی دهیواد هر اوسیدونکی اوددولتی هډاني اړوند جوړښت او نهاد ته ژمن او دخپلو کړووړو ځواب ویونکی او حساب ورکونکي دي.دوی څومره ګوندی سابقه او یا ګوندي منښت لري،دګوند په کوم مقام او یافرکسیون پورې تړلي دی،له خپل هغه یا دغه مشر سره څومره همغږي،هملورې او یا مخالف دی ددولتی اوملی ژمنتیا دپلي کیدو دځرنګوالې لپاره نه دبراءت او نه هم دمحکومیت فکتور،عامل ،دلیل او وسیله بلل کیږي.داروابناد نورمحمد ترکی ددولتی مشرتابه په موده کی دخلک دموکراتیک ګوند دغړو ټول شمیرد۲۵زره کسو په شاوخوا کی ووخوددولتی واکمنی تر اداری لاندې دهیوادوالواټکل شوی شمیر۱۵ملیونوکسواوددولتی کارمندانوشمیرکابو۶۰۰۰۰۰کسو ته رسیده چه دهمدې ګوند غړي حتی په فیصدی کی نه شوای راتللای،دحفیظ الله امین ددرۍ میاشتنی واکمنی په مهال دګوندیانوټولټال شمېرد۳۰۰۰۰کسو په شاوخواکی وو ددولتی واکمنی تر ولکی لاندې سیموکی د۱۳ملیونو په حدودوکی

هیوادوال اوسیدل چه بیا هم ګوندیان په فیصدي کي نه راتلل،دشوروی اتحاد دپوځي تيري اوهممهاله دببرک کارمل ددولتی واکمنی په وروستیو میاشتو کی دګوندیانو شمیرکابو۱۰۰۰۰۰کسه،ددولتی کارمندانو شمیر۷۰۰۰۰۰او ددولتی حاکمیت تر بشپړې یانیمګړي ولکې لاندی داوسیدونکوهیوادوالو شمیرکابو ۱۰۰۰۰۰۰۰کسوته رسیده چه ګوندیانودهمدې ارقامو یواځې یوه سلنه جوړوله

همدارنګه دجمهوررییس نجیب الله ددولتی واکمنی په وروستني کال کی دوطن ګوند دغړوصاف شوی شمیر۱۵۸۰۰۰کسه،ددولتی کارمندانوشمیرکابو یوملیون اوددولتی واکمنی ترولکې لاندی داوسیدونکوافغانانوټولټال شمیرکابو۱۸ملیونو ته رسیده،آن دوسله وال پوځ په لیکوکي چه شمیریی ۶۰۰۰۰۰کسوته نژدې شوی وو دوطن ګونددغړو شمیر یواځې ۹۳۰۰۰ کسه وو

له پورتنیو مقدماتي څرګندونو نه زما موخه داده چه ځولاندینیو بنسټیزو ټکو ته دخپلو هیوادوالو پاملرنه راواړوم

- دولتی واکمنان(امیر،ټولواک او جمهوررییس)دواکمني په ټول بهیرکی د شخصی،کورنیزې، توکمیزې،قومی اوګوندي خپلواکی او تړاوحق له لاسه ورکوی او دخپل وخت دنافذه قوانینواو دورچاپیروبهرني شرایطو اولاملونو په محدوده کی دخپلې واکمني دقلمرو په دننه کی دټولواوسیدونکو دعاموګټو،دقلمرو وخپلواکی او دځمکنی بشپړتیا و تاءمین اوخوندیتوب ته ژمن دي.دبنه مشرتابه بنسټګنې او لاسته راوړی ویاړ دټول ولس یا ملت شتمنی ده چه دولس اویا ملت په استازیتوب یی تاریخ ددوی په نامه ثبتوی.که دسرغړونو،تیروتنواویاهم خیانت مرتکب کیږي تر خپل هربل منفردچارواکي او شریک دمخه شخصآدپېرې ځواب وایی چه پایله یی یا بالفعل،یاهم غیابی او یا هم بالقوه دولس،ملت او یا تاریخ په محاسبه ، محاکمه اوقضاوت کښي راڅرګندیږی.لکه څنګه چه ددوی ویاړدکورنۍ،توکم،قوم اویاګوند له ملکیت او انحصارڅخه وتلی دی،پېره،محکومیت اوسرټیټی یی هم پرهمدغو جوړښتونو نشي تپل کیدلای

- دټولواکانو یا ولسواکانودکړووړو،بریاوواویاهم ناغیړیو په هکله بالفعل اویا هم تاریخي قضاوت ددوی دپخوانیودندو او مقامونو دڅرنګوالي پربنسټ نه بلکه دواکمني دمودې په اوږدوکی دمسلطوشرایطو او قوانینودملی او عمومی ارزونې بر بنسټ ځکه تر سره کیږی چه ترواکمنی پخوا ددوی دمسولیت اوصلاحیت

کچه اوځرنګوالی بنسټیز توپیر لری

- هرسیاسی،ملی او یادولتی مشرهغه وخت پرتلپاتې او منل شوی شخصیت اوړی چه په خپله دذاتی اویاکسبی «طبیعي اتوریتې»خاوند وی او له «مصنوعی اتوریتې»(دولتی یاګوندی،دیني اویا ټبریز مقام،قهریه وسایل،قوانین،بهرنی ملاتړ،شتمني او اژیتاسیون)څخه یواځې او یواځې دملت او عامه ګټو لپاره دکارولوځواکمنی اووړتیا ولری او هم د«مصنوعي اتوریتې»له خلاقانه کارونې څخه سمې پایلې تر لاسه کړي.ګوندی تړاو،خټه او نسب،شتمنۍ،پلټن او بهرنۍ ډډې هیڅ رهبرته تلپاتی او ټول لمنی شخصیت نه ورکړی اونه یی ورکولای شي

- ملي،ټول لمنې اوپرخپله وړتیاځلیدلی مشران زموږ دګډتاریخ ستورې،تلپاتې معنوی شتمني اوسرتاسري ویاړ دي اوځومره چه زموږدولس دپوهې کچه لوړیږي دوی به په راتلونکی کی نور هم وځلیږی،خوپرهمدې هکله له ځینو غولوونکو ارزونو څخه باید په کلکه ډډه وشی او هغه داچه زمونږدغه مشران دویشلووړندی اوکه یی موږ وویشودهغوی ګټلي شخصیت دخپل توکم،سیمې،ژبې،مذهبي سکټ او ګوند تنګي اوکوچنۍ کچې ته راټیټوو،زموږ دغه مشران نه نعوذبالله خدایان وو اونه هم پیغمبران،نوددوی شاته پټیدل اودخپل هوس دارضا لپاره له دوی نه بتان جوړول هم له ملت هم له همدې مشرانواو هم له خپل ځان سره جفا بلل کیږی.او ترټولو مهم ټکي دادی چه همدااوس اوس نه خپل هیوادوال اونه هم نړیوال موږته پردې براءت راکوی چه زموږ دخوښې دغه یاهغه مشرپرخپل وخت کی یو څه کړیدی بلکه موږ په خپل وخت کی په خپله (هم ملی اوهم فردی) دعملی ګامونو اوچتولو داسې مکلفیتونه لرو چه داوسني او راتلونکی نسل ګټې پکښې نغښتې وي

دافغانستان پخوانی جمهورریس ډاکترنجیب الله دافغانستان دمعاصر تاریخ یو له هغو وتلو دولتی اوملی مشرانو څخه دی چه دپاس ذکر شویو ارزښتونو او نورمونوپه رڼاکی داحمدزیتوب،غلجیتوب،پکتیاوالی اوپښتونولی له اتنیکی او سمتی پولو اودخ.د.ګ اووطن ګوند له ایدیالوژیکو او سازمانی کربنو څخه اووښتی او دافغان اوافغانستان په ویاړلي تاریخ کښې یی هغه لوړ ملي باوراو مقام ګټلي اوخپل کړیدی چه زموږمحدود ویاړلی ملی مشران ترډااوسه وررسیدلی دی

سره له دې چه د«مصنوعی اتوریتې» ټول شامل فکتورونه دنجیب الله دسیاسي مخالفینو په ولکه کښې

لویدلی دی(وسله،پلټن،دولتي هډانه،مالي شوونتیاوی،داژیتاسیون وسیلې،مدنی او سیاسي جوړښتونه او دبهرنیانو خواخوږی او ملاتړ)او تر وسه وسه دده دمعنویت دترور اویا مسخ کولو په موخه لا هم کارول کیږی خو ددوولسیزو دترخو واقعیتونو ترآغیزلاندی دملت اجتماعی وجدان دراوییښتوب هغې کچې ته را لوړشوی دی چه دپرونیوډیرکي مخالفینو په شمول ده ته نه یواځې دتیر شوی تاریخ دویاړلي مشر بلکه دخپل راتلونکي ژوند دمشال(مشعل) په سترګه ګوري.زه نه دخوشبینی او خوشباوری له مخې او نه هم دتعبد اوتقدس پر مېچ،بشپړداډ اوباورلرم چه دملت دپوهې او ټولنیزشعوردبشپړشوی بلوغ اوپخوالې سره بلود به نجیب الله دټول هېواد اوزموږ دراڅېرمه سیمی په یوه ځلانده ستورې او یوه ویاړلی سمبول بدل شي

نو ځکه په زغرده او جراءت ویلی شو چه جمهور رییس نجیب الله دپخو او مستندو فاکتونو پراستناد نه په کوم ځانګړي ګوند،نه په کوم ځانګړی ټبر او قوم او نه هم په کومې ځانګړې ژبې پورې منحصرولای شو بلکه دټولو افغانانو او دافغانستان دګډ ویاړلي تاریخ ګډ او ویاړلی مشردی چه هم دده سیاسی او نظریاتی مخالفین اوهم یی پلویان نباید دا ځرګند حقیقت له پامه وغورځوي

خو

نجیب الله ته ریښتونی درناوی په څه کی نغښتي دی؟

موږ ټول افغانان له هرتوکم،مذهب،جنس،سیاسي،آندیز اویاژبې سره چه تړاو لرو دخپلو ملي اتلانو او مشرانومثبتو کارنامو اومعنوی میراث ته نه یواځې ددرناوی ژمنتیا لرو بلکه دامکلفیت هم لرو چه دهغومعنوی میراث وساتو،غناورکړواوراتلونکونسلونو ته یی سینه په سینه خوپه امانت داری ورسوو.دخپلواکي دبیرته ګټلو وروسته غازی امان الله خان دنورو مثبتوبدلونونو ترڅنګ دملی اتلانواوتلپاتو مشرانو دستاینې او درناوی یو پوخ او ټول لمنی بنسټ کښېښود چه سممهاله دملت جوړونې دبهیر له پیل او پخوالې سره مرسته وکړي.خووروسته دحبیب الله سقاو او دیحیی دکورنۍ دواکمنانو له خواپردې خورا اړین اوګټورابتکارله کرکې اوویرې ډک مرګونی ګذاروشواو غوښتل یي چه دافغانستان تاریخ دخپلې کورنې په محوراوخوښه وڅرخوی.ډاکتر نجیب الله ددولتي مشرتابه په مهال بیرته دامانی نهضت دمثبت میراث دراژوندې کولو او تعمیم ته خاصه پاملرنه واوښته او د هغوی له مینځه دې ټکي ته چه دملي مشرانو اواتلانو

تثبیت اودرناوی ته اکادمیک اوبې پرې نورمونه دقوانینو په وجود کی رامینځ ته شي دستاینې وړعملی توجه وشوه.له بده مرغه جهادیانو او طالبانو پر دغه زرین ملی اصل دجهالت اودښمني له مورچله شرموونکې ډزې وکړې .خو دویر اودرد خبره داده چه پدې تیرو ۱۴ کالوکی چه دافغانی چارواکو ترڅنګ متمدنو بهرنی دولتونو دهیواد دقوانینو او نویو نورمونو اوجوړښتونو په رامینځته کولو کی بنسټیز آغیزدرلوود پدې هکله نه یواځې داچه مثبت اقدامات ونه شوو بلکه د«شهیدانو»،«اتلانو»،«جهاد»او«مقاومت» ترنامه لاندې یوه کرکجنه،مبتذله او غیر ملي ډرامه روانه ده چه داهم زموږ اوسني او پروني نسل اوهم دملت -دولت جوړونې لوی بهیر ته ستر سپکاوی او هم په لوی لاس دتاریخ مسخ کول دي.زه پدې هکله هم دافغانی سیاستوالو،هم دافغانستان دعلومو داکادمی اوهم دجلالتمآب ولسمشر پاملرنه دې خورا مهم ملی اصل ته رااړوم اووړاندیز کوم چه دامان الله او نجیب الله دمثبتو نوښتونو پر بنسټ دی دتلپاتی،بې پرې او قانوني اساساتو په رامینځته کولوکی کوټلي او پاخه ګامونه اوچت کړي.همدارنګه دډاکتر نجیب الله ټولو مینه والو ته وړاندیز کوم چه دلنډغرو او لنډپارو دوروستیو کالو او سږکال له شرموونکو،بېفرهنګه او کوڅه ډبونمایشونواو انډخریو څخه زده کړه وکړي اودوطن دملی شهید دتلین مراسم دی دولس دټولو پرګنو په ګډون په مهذبه،متمدنه اوداسې مناسبه توګه تر سره کړي چه دهر وطنپالونکي افغان لپاره سر مشق او دنجیب الله لپاره درښتوني درناوی ښکارندوی وي

بیرته اصلي مطلب ته راګرځم

زه پدې هم ویاړم اوهم اعتراف کوم چه نجیب الله دملی مشرتابه معنوی مقام ته نه کوم چا،نه کوم ګوند،نه کوم ټبراونه هم کوم بهرنی ځواک رااوچت کړی اوخپژولی دی بلکه دیوه لوی سیاسی زعیم دټولو عملي اونظري ممیزاتو او مشخصاتو په درلودلو،ده په خپله دامقام هغه هم په خورا لوړه بیه ترلاسه کړیدی.داموږ نه وو چه نجیب الله مودملت پرګنو ته وروپیژاند بلکه دانجیب الله وو چه زموږ مخ یی راسپین کړاوولس ته یی په نوې بڼه اونوی تکل وروپیژاندلواو اوس ملت دهغه دتندې دماتولولپاره موږ ته مخ رااړولی دی اودهغې بیغښې مینې له مخې چه له هغه سره یی په تدریج پیداکړې اواوس تلپاتې شویده،پرحقه دهغه دسیاسی لارویانو او پلویانوڅخه ددې تمه او انتظار لری چه دنجیب الله په څیر ددوی برخلیک او ستونځو ته ریښتونې لاری چارې

ومومی اوله دغه ګروبی نه چه جګړه،بېوزلي،تورتمی اوناهیلۍ نومیری اوددین او جهاد ټیکه دارانو ورغورځولي دی،دوی راوباسي.خو افسوس او بیا هم افسوس موږ هماغه چه ځانونه دنجیب الله ټیکه داران،لارویان اوسیاسی میراثخواره بولو او په رېښتیاګو دستروکادری ظرفیتونوشوونتیاوې راپکښې وې،۲۴کاله کیږی چه شل شل په کوچنیو لښتیو اوویالوکي چه اوبه هم نلری په درواغو په لامبو اخته یو،په ځانګړیوبې اوکسیجنه ټمبوسکوکی سپاره یوچه دټمبوسکو له خاوندانو پرته بل هیچاته نه دننوتلواجازه او نه هم دځاییدلو امکانات شته او یا هم دهیواد نه بهر اودننه دخیر په غونډیو پډې تمه ناست یوچه که چیرې درحمت باران راواوریده او یوځل بیا سرې غالۍ راته ویرې شوي ترڅو دمشرتابه دتخت پر لورې پرې قدمونه رنجه کړواویا مو دشورای نظاریانو په څیردنجیب الله دسپکولو او مسخ کولو په موخه دهغه په وینو لړنې کمیسونه اونقابونه ځانوته وراغوستی په دغه یا هغه «پسکوچه یی»دوکان کی په تاوان سوداګري کوو.دازما د خیال انځور ندی دا هغه تریخ اوډیر تریخ واقعیت دی چه دهوا مرغان هم لاپرې خبر دی،آیا دادنجیب الله درناوی دی؟آیا په همداسي یوه حالت کی به اولس په موږ باور وکړي؟آیا په همدغه بزې بزیتوب کی به څوک هم له موږه سترګه یا ویره اویا هم راباندی محاسبه وکړی؟زما دډیرو ترخواوناویل شویو واقعیتونو دویلو او لوڅولو نیت وو اولاهم دی خوسره له دې چه ډیرفرصتونه موقصداً ضایع کړیدی دیوه وروستنی امید په توګه ،هغه هم په دې تمه او حدس چه اوس به بالاخره راویښ شوی اوشوکه شوی یواو هم ددې لپاره چه دراتولیدو او پخلاینې اړین اصل ته خنډ او بهانه نشم یوځل بیاهم لا له زغمه کار اخلم اوددې ویرځیلي ولس په نامه او دسولې ،ترقی او دوطنی لوړوکیټو داوږدې لارې دواقعی سمبول ډاکترنجیب الله ته درېښتونی درناوی دبیلګې په تو ګه دوطن ګوند اوډاکتر نجیب الله ټولو متشکلو او غیر متشکلو،ځوانو ،پخو اوزړو،او دهیواد دننه او بهر لارویانو ته په مینه او درناوی مراجعه کوم

<u>اویو ځل بیایی دی ته رابولم چه</u>

دوروستني ځل لپاره ما دسږکال دمارچ اواپریل په میاشت کښې دیو شمیر ګوندونو او سازمانونو له مشرتابه هییت او همدارنګه له ځینو ناپېیلو کادرونو سره په ټول لازم تفصیل مخامخ،دوه اړخیزي اوڅواړخیزې خبرې اترې ترسره کړې.دکابل په دې خبرو اترو کی موږ په ګډه دې پایلې ته رسیدلي ووچه دوطن ګوند له

هډاني نه دجلاشويواو يا جوړوشويو موجوده راجستر شويو اوناراجسترشويو ګوندونو شتون،ځواک، وړتيا او پايښت همدا اوس اوس تر سوال اوګواښ لاندی دی اوبايد پردموکراتيکو نويومعيارونودهمدې ګوند له ناپيليلو غړو سره يوځای ويوه واحد ،لوی،سرتاسری او آغيزمن ګوند ته بيړنی ګذاروشي،نوځکه يی دلته تفصيل مناسب او اړين نه بولم.خو په هماغه وخت کی دخبرو اترو له پايلې نه دغه آند ته رسيدلی وم چه دځينو ګوندونو مشران له توافق او تعهد سره سره له همداسې يوه ګوند نه په ويره کی دی اودعادت اوکسب شوی فرهنګ له مخې به دلوبې اوتېښتې په تيوري او سناريو اتکا ءوکړی،ما خپله دغه انديښنه داپريل د۱۷مې مشورتي ګډې غونډې له دايريدويوه يا دوه ورځې مخکی له ځينو دوستانو سره شريکه هم کړه،خو ددې لپاره چه دهغومنګی زموږ پرسر مات اوچاته دبهانې لاره هواره نشي دغه آند اواندييښنه موډاګيزه نه کړه.

له بده مرغه دځو وروستيو مياشتوپېښنو او پراختياوو وښوده چه زما انګيرنه اوانديښنه پرځای وه اوله همدې پراختياوو،ځخه دغه تريخ حقيقت نور هم جوت او روښانه شوچه که موږ همدا اوس اوس وواحد اوسرتاسری ګوند ته بيړنی او غير مشروط ګذار ونه کړو سبا به حتی دپښيمانی موکه هم له لاسه وتلې وي.جهادی او اخواني تنظيمونه ددوو سياسی جوړښتونو(جهادی شورا،دفاعی شورا)په وجود کی وکولای شوای چه سره هملورې اونژدې شي ،که تر شايی جګړه ايزې پټې موخې پرتې نه وی کيدای شی چه دسياست په راتلونکی ډګر کی ځانونه ددوو لويوګوندونو په توګه تثبيت کړی.د۱۳۶۸او ۱۳۷۱کلونو دکودتا دوه سياسی هډاني(دصالح محمدزيری ترسياسي مشرتوب لاندې دشهنوازکودتا او دببرک کارمل تر سياسي مشرتوب لاندی دشمالي ټلوالې کودتا)په يوه ګوند(دافغانستان دخلکودترقي ملی ګوند)کی سره چکئ شوې اوددې شوونتيا شته چه د همدې کودتاګانوپوځي برخه(دشهنواز او علومی ګوندونه)هم له ځان سره ونښلوي.خو دوطن ګوند له هډاني څخه جوړشوی (سره اوبې روسترړه اومخترړه)ګوندونه، سازمانونه اوډلې له بده مرغه لاهم دژمي له اوږده خوبه او دمني دچرچرکانوله کنوونکو سندرو نه ندی راوتلی اود«ګام های بزرګ سنجيده»په ګرداب کی لالهانده ګرځي

د نورو غوړونه مووركانه كړه چه دنجيب الله دآرمان مناديان موږ يو،د«ملي وفاق»،«ملي پخلاينې»،«ملي اجماع»،«کنارآمدن»او«ملي مشارکت»دزرينوآړونود پلي کيدلوپهلوانان يواځې او يواځې موږ يوخو په عمل

کی دومره بې وسه شوی یوچه په میراث راپاتې شوی لویه هډانه مو په لوی لاس دړې وړې کړه او اوس یی دراټولولووس اوځواک نلرو هغه لویې لویې خبرې چه ملت یی هره ګړئ رانه غواړي خوباید پرځای پرېږدو،ملت داحق لري چه ګریوان ته مو لاس راواچوی او له موږ ټولو نه تپوس وکړی چه ستاسوکوم کړه وړه نجیب الله ته ورته دی؟

آیا ملت او دولت او زموږدهیواد دوستان او دښمنان داحق نلري چه که دیوه لوی آغیزمن سیاسی ځواک په توګه په سیاسي ډګرکی بالفعل ولاړ نه یو پرهغه ځواکونوچه تیار په میدان کی حاضر دی اتکاء یا محاسبه وکړي؟

زه بې له ظاهرفریبي خپل ځان زموږ دګډې بې وسیواو ناخوالو په مسولیت کی شریک بولم او پردې باور یم چه موږ ټول فرصتونه له لاسه ورکړیدي اویواځې یو وروستی چانس لروچه که په بیړه،درایت،خودګذري ،پخلاینې او همدیګر پذیري ترې استفاده ونه کړو هغه موهم په بیړه له واکه ووځي نو ځکه په وطنی او ګوندی مینه اومسولیت وړاندیزکوم چه

ـ عملاً دا زمینه برابره شویده او پرنسیب هم حکم کوی چه بې له کوم قید او شرط څخه دوطن ګوند غړو،پلویانو او مدعیانو ته چه د۱۳۶۹ کال راپدې خوا راسره اصولاً شریک ووااوس دوطن ګوند واحدې کنګرې(مجمع)ته دتلو توافق اوتیاری لری دمشارکت مساوی حق اومکلفیت ومنل شي

ـ اوړدو تجربو وښوده چه دیون زاړه فورمولونه او میکانیزمونه(له پورته څخه کښته یووالی،دسلنو پربنسټ یووالی او یا دګوندونواو سازمانونو دمشرتابه ترمینځ نیابتي جوړجاړی)دګوند دراتلونکي ثبات او پایښت لپاره ددایمي بحران په چینې بدلیږی نو ځکه باید په ټولو تشکیلاتی چارو کی پردموکراتیکواساساتواو دیوه غړی اویوې رایی په اصل اتکاء وشی

ـ دوطن ګوند واحده کنګره(عمومي مجمع)په څومیاشتوکی،دکومو واحدو جوړښتونو پر بنسټ،پرکومو معیارونو،دکومو مالی شوونتیاووپه درلودلواودکومو اړینواسنادو په شتون کی جوړه شي او.....؟په کابل کی یوه بیړنئ،ټول لمنې،پریکنده او دګوندي «پخلاینې اووفاق»پلي کونکي ګډه غونډه دې ټولومطرحوپوښتنو ته دحل او سمبالښت ایدیال ځوابونه موندلای شي.ددې غونډې درابللو نوښت که دوطن ګوند ولویې هډانې ته

منسوب هرګوند،سازمان اویا هم شخصیت  په لاس کی واخلي یا یی وکړی نور ټول یي باید بې قید اوشرط ځخه صادقانه او هراړخیز ملاتړوکړی

ـ زموږ لویه او مرکزی ستونځه دفکری خطوطو او یا دسازمانی خط کشیو اوکورکیو نه شتون ندی بلکه زموږلویه ستونځه داده چه زموږ ستر کادری ظرفیتونه او کیفیتونه دبې باوري او ځان ځاني په وجه ځارونکي او غیرفعال پاتي دی،زما تاکیدي وړاندیز دادی چه دې ستونځې ته موږ ټول له سره جدی پاملرنه وکړو

ـ شهید ډاکتر نجیب الله زموږ دټول ملت ګډویاړاو معنوی ستره شتمني ده موږ دوطن ګوند غړي باید ددې هڅه ونه کړو چه هغه وخپلې کچې ته راکښته کړو،یایی دانحصارتیکه داران شو اویایی هم دافتراق په وسیله واړوو

موږ په ګډه ددنګو غرونو دهوارولوتوان لرو خو په ځان ځاني کي بیخي ورکیږو

چه سره یو موټي شو دټول ملت تر ټولوځواکمن اوډاډمن ځواک یو

باید یوځای او پربشپړه زړورتیا دسیاست پرډګر کي ځان مطرح کړو،هم به دوست او هم به دښمن ناګزیرآ پرموږحساب وکړی

**همدغه نجیب الله ته دریښتوني درناوي لمړنۍ اوعملي بیلګه ده**

**نجیب الله زموږ دملت اتل دی اودورځې په تیریدو به لوییږی**

د۲۰۱۵کال دسیپټامبرځلور ویشتمه

ډنمارک